امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی امادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و ارتباط عامه



# هفته نامه مدیریت حوادث

۱۰ الی ۱۵ سنبله ۱۴۰۳

شماره هفتاد و دوم

## له پيښو سره دمبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست په خپل کاری دفتر کې د افغانستان لپاره دترکې هېواد له سفير ښاغلي جنک اونال او مل پلاوی سره ناسته وکړه



له پيښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدين ترابی په افغانستان کې د ترکې سفارت سفير جنک اونال ته ښه راغلاست ووايه او وويل چې دترکې هېواد د افغانستان سره لازمې همکارۍ کړې دی او موږ يې منندويو او تل يې زموږ سره په هره برخه کی همکاری کړی ده.
محترم ترابی صاحب په کابل کې د دترکې هیواد د سفير څخه وغوښتل چې دطبعی او غیری طبعی پيښو په اړه د بيړنيو حالاتو او خطرونو د مديريت او داقلمی بدلون دوقايې په برخه کې زموږ سره همکاری وکړی...

ادامه در صفحه۲

## له پيښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د جګړه ځپلو ماشومانو لپاره د انګلستان د موسسې له سرپرست جوړېدن ګړ سره وکتل



له پيښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، الحاج ملا نورالدين ترابی په خپل کار په دفتر کې د جګړه ځپلو ماشومانو لپاره د انګلستان د موسسې War Child له سرپرست جوړېدن ګړ سره وکتل...

ادامه در صفحه۲

## له پيښو سره د مبارزې آمادګی ملي ادارې او د نه آنلوس نړۍ والې موسسې ترمنځ بېوزله کورنيو ته د خوراکی او غيرخوراکی مرستو د وېش تفاهم نامه ( هوکړه ليک) لاسليک سوه



له پيښو سره د مبارزې آمادګی ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدين ترابی په خپل کاری دفتر کې د نه آنلوس (NOVE ONLUS)نړۍ والې موسسې د سرپرست مرستيال محترم فيضان احمد کاکړ سره وکتل او په کابل...

ادامه در صفحه۳

## د احتمالي پيښو له زيانمن سوی کسانو سره د شمال او شمال ختيز زون ولايتونو ته د خوراکی موادو مرستې انتقالات



له پيښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د سرپرست په لارښوونه څو ټنه خوراکی مواد د احتمالی پيښو له زيانمن سوی کسانو سره د مرستې او همدردۍ لپاره د بلخ، جوزجان، سمنګان، فارياب، سرپل، بغلان، کندز، تخار او بدخشان ...

ادامه در صفحه۳

## له پېښو سره دمبارزې آمادګۍ ملي اداري سرپرست په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره دترکې هېواد له سفير ښاغلي جنک اونال او مل پلاوی سره ناسته وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي په افغانستان کې د ترکي سفارت سفير جنک اونال ته ښه راغلاست ووایه او وویل چې دترکې هېواد د افغانستان سره لازمې همکارۍ کړې دی او موږ یی منندویو او تل یی زموږ سره په هره برخه کی همکاری کړی ده.
محترم ترابي صاحب په کابل کې د دترکې هیواد د سفير څخه وغوښتل چې دطبعی او غیری طبعی پېښو په اړه د بیړنیو حالاتو او خطرونو د مدیریت او داقلمی بدلون دوقایې په برخه کې زموږ سره همکاری وکړی او موږ ددواړو هیوادنو پر پراخو اړیکو ټینګار کوو او یو بل ته مو په بیړنیو حالتو کی مرسته رسولی ده.
ورپسې په کابل کې د ترکې د سفارت سفير محترم جنک اونال له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري له سرپرست سره دخپل هېواد دهمکاریو یادونه وکړه او وویل چې په کابل کې د ترکې دسفير په توګه موږ د دولت داصولو او وزارتونو او دولتی ادارو دغوښتنو سره سم همکارۍ ته چمتو یو.
او په افغانستان کې دترکې هیواد سفارت سرپرست په بیړنیو حالاتو کې له دغه هېواد سره د مرستې یادونه وکړه او زیاته یې کړه چې ستاسو د غوښتنو او معلوماتو له مخې هر ډول همکارۍ ته چمتو یو.
په اخر کې دواړو خواوو په بیړنیو حالاتو او بیړنیو پروژو کې د بشری مرستو رسونې او داړیکو پر ساتلو ټینګار وسو.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري سرپرست د جګړه ځپلو ماشومانو لپاره د انګلستان د موسسې له سرپرست جورډن ځم سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري سرپرست د جګړه ځپلو ماشومانو لپاره د انګلستان د موسسې له سرپرست جورډن ځم سره وکتل
له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري سرپرست، الحاج ملا نورالدین ترابي په خپل کار په دفتر کې د جګړه ځپلو ماشومانو لپاره د انګلستان د موسسې War Child له سرپرست جورډن ځم سره وکتل.
په یاده لیدنه کی د ۵۹۴،۲۲۲ امریکایي ډالرو په ارزښت ۵۰۴۰ جګړه ځپلو ماشومانو ته په بلخ، جوزجان او بادغیس ولایتونو کې د رسېدنې لپاره تفاهم نامه لاسلیک کړ.
په دې کتنه کې محترم الحاج ملا نورالدین ترابي وویل: زما د کار پالیسی داسې ده چې د موسسو لپاره آسانتیاوې رامنځته کړم او د دوی کارونه په وخت ترسره کړم. له دوی نه هم غوښتنه لرم چې خپل کارونه په چټکۍ او شفافیت سره ترسره کړی. همدارنګه نوموړی د پروژو پلی کولو د زمینې برابرولو لپاره هم د همکارۍ کولو ژمنه وکړه.
ورپسې د جګړه ځپلو ماشومانو لپاره د انګلستان د موسسې سرپرست جورډن ځم، د پروژې د تطبیق لپاره د زمینې برابرولو څخه د مننې او قدردانۍ په ترځ کې وویل: موږ ژمن یو چې یاده پروژه په ټاکلی وخت کې پلی کړو او د پروژې د شفافیت په اړه یې هم ډاډ څرګند کړ.
د یادونې وړ ده چې، یاده پروژه د طبیعی پېښو له امله زیانمنو ماشومانو لپاره ده چې، د روزنیزو مرکزونو جوړولو، د ماشومانو د ذهنی پرمختګ لپاره روانی درمانی خدمات، قرطاسیې، خوراکی توکی او نغدی مرستې پکې شاملې دی، او یاده پروژه به د بلخ، جوزجان او بادغیس ولایتونو په ۷ ولسوالیو (چمتال، مزار شریف، خانقاه، شبرغان، مقر، بالا مرغاب، آب قمری او غور ماچ ) کې پلی سی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګی ملي ادارې او د نه آنلوس نړۍ والې موسسې ترمنځ بېوزله کورنیو ته د خوراکی او غیرخوراکی مرستو د وېش تفاهم نامه ( هوکړه لیک) لاسلیک سوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګی ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی په خپل کاری دفتر کې د نه آنلوس (NOVE ONLUS)نړۍ والې موسسې د سرپرست مرستیال محترم فیضان احمد کاکړ سره وکتل او په کابل ولایت کې د ۴۳،۶۷۲ امریکایی ډالرو په ارزښت ۱۸۰ بېوزله کورنیو ته د خوراکی او غیرخوراکی مرستو د وېش لپاره تفاهم نامه لاسلیک کړ.

د دغه تفاهم نامی د لاسلیک پرمهال محترم الحاج ملا نورالدین ترابی ښاغلی فیضان احمد کاکړ ته په ښه راغلاست سره وویل: زه د مرستندویه موسسو سره چې د افغانستان مظلوم اولس ته بشری مرستې رسوی، همکاری کوم او هغوی ته د لازمو اسانتیاوو برابرولو په برخه کې خپلې هڅې کوم. همدارنګه نوموړی زیاته کړه چې له موسسو غواړم ترڅو خپل کارونه ګړندی کړی او شفافیت رامنځته کړی.

ورته مهال د یادې موسسې د سرپرست مرستیال فیضان احمد کاکړ له ښاغلی ترابی څخه د منني او قدردانی په ترڅ کې وویل: موږ دی ته ژمن یو چې د افغانستان اړمنو او بېوزله خلکو ته بشری مرستې ورسوو او په راتلونکې کې به هم خپلو مرستو ته دوام ورکړو.

د یادونې وړ ده چې د بشری مرستو د وېش په دغه لړۍ کې به د کابل ښار د بېلابېلو ناحیو اړوندو اړمنو او بېوزله خلکو ته په دوو پړاوونو کې خوراکی او نغدی مرستې ووېشل سی.

## د احتمالي پیښو له زیانمن سوی کسانو سره د شمال او شمال ختیز زون ولایتونو ته د خوراکی موادو مرستې انتقالات

له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د سرپرست په لارښوونه څو ټنه خوراکی مواد د احتمالی پیښو له زیانمن سوی کسانو سره د مرستې او همدردۍ لپاره د بلخ، جوزجان، سمنګان، فاریاب، سرپل، بغلان، کندز، تخار او بدخشان ولایتونو ته خوراکی مواد انتقال سوه.

یادونه باید وشی چې په دغه موادو کې غنم، اوړه، وریجې او غوړی شامل دی. دغه مواد په ولایتی ریاستونو کې له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې په ګودامونو کې ذخیره کیږې او د اړتیا په وخت کې به ترې استفاده کیږې.



## د هیواد په ۱۲ ولایتونو کې د احتمالي پېښو زیانمنو لپاره د مرستو په موخه د خوراکی او غیرخوراکی مرستو د لېږدولو لړۍ پیل سوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی د لارښوونې پر بنسټ د هیواد په ۱۲ ولایتونو کې د احتمالي پېښو له امله زیانمنو ته د څو ټنه خوراکي او غیرخوراکي مرستو د لېږدلو لړۍ پیل سوه.

د یادونې وړ ده چې په دې مرستو کې اوړه، وریجې، غوړي او کمپلې شاملې دي چې د کونړ، ننګرهار ٬ نورستان ٬ لغمان غزنی ٬ ارزګان او کندهار ولایتونو لپاره خوراکي او غیرخوراکي مرستې لېږدول سوې دي او د هلمند، نیمروز، فراه، هرات ٬ غور ٬ بادغیس او دایکندي ولایتونو مرستې هم لیږل کیږی .

## ۱۱ خانواده متضرر در غور کمک‌های خوراکی و غیرخوراکی دریافت کردند



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت غور، برای ۱۱ خانواده که از اثر آتش سوزی متضرر شده بودند، بعد از سروی به هر کدام کمک‌های خوراکی و غیرخوراکی توزیع نمود.

گفتنی است که برای ۹ خانواده که آسیب بیشتر دیده بودند، به هر کدام یک باب خیمه، ۱۰۰ کیلو آرد، ۵۰ کیلو برنج و ۱۰ لیتر ورغن و برای ۲ خانواده که آسیب کمتر دیده بودند، به هر کدام ۱۰۰ کیلو آرد، ۵۰ کیلو برنج و ۲ لیتر توزیع گردید.

## په کندهار ولایت کې ۲۹ سېلاب ځپلو کورنیو خوراکی، غیرخوراکی او نغدی مرستې ترلاسه کړې



د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IOM, WFP, UNFPA, Save the Children او HAPA موسسو سره په همکاری او همغږۍ، د یاد ولایت معروف او ارغستان ولسوالیو اړوند ۲۹ کورنیو ته چې د وروستیو سېلابونو له امله زیانمنې سوی وې، له سروې وروسته خوراکی، غیرخوراکی او نغدی مرستې ووېشلې.

د دغو مرستو د وېش په بهیر کې هرې کورنۍ ته ۹۰۰۰ افغانۍ، ۲۰۰ کیلو اوړه، ۱۸.۲ کیلو غوړی، ۲۵ کیلو دالنخود، ۲ کیلو مالګه، ۲۱ دانې د تغذیې بسکوټ، 9 کیلو د ماشومانو شیدې، د کور د ترمیم لپاره د سرپناه ۱ کېټ، ۱ روغتیایی کېټ، ۱ هایجن کېټ او یو شمېر نور توکی ووېشل شول.

## برای ۲ ورثه شهید کمک‌های نقدی و خوراکی توزیع شد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان، برای ۲ خانواده که اعضای فامیل‌شان از اثر حوادث طبیعی شهید شده بودند، کمک‌های نقدی و خوراکی توزیع نمود.

باید گفت که به هر ورثه شهید مبلغ ۲۵,۰۰۰ افغانی پول نقد، ۷۵ کیلو برنج، ۱۰ لیتر روغن، ۱۲ مکرونی و یک کارتن آش توزیع گردید.

## ۲ میلیونه او ۴۹۳ زره افغانۍ ۳۲ سېلاب ځپلو کورنیو ته په کندهار ولایت کې د کور جوړولو لپاره ووېشل سوې

د کندهار ولایت له پېښو سره مبارزې آمادګۍ ملی اداري ریاست د Islamic Relief موسسې سره په همکارۍ, د یاد ولایت ارغستان ولسوالۍ اړوند ۳۲ کورنیو ته چې د وروستیو سېلابونو له امله يې کورونه ویجاړ سوی و, له سروې وروسته د کور جوړولو لپاره ۲ میلیونه او ۴۹۳ زره افغانۍ ووېشلې.

په دې مرستو کې له یادې جملې ۳۰ کورنیو ته په لومړی قسط کې هرې کورنۍ ته ۷۸۶۰۰ افغانۍ او ۲ نورو کورنیو ته په لومړی قسط کې هرې کورنۍ ته ۶۷۶۰۰ افغانۍ ووېشل سوې.




## ۱۶۸ سېلاب ځپلې کورنۍ په میدان وردګ ولایت کې له خوراکی او غیرخوراکی مرستو برخه منې سوې

د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري ریاست، د یاد ولایت جلرېز ولسوالۍ اړوند په سنګلاخ او تکانی سیمو کې ۱۶۸ سېلاب ځپلو کورنیو ته له سروې وروسته د محترم مولوی فیض الله جلالی د یاد ریاست مشر او د یادې ولسوالۍ د استازی په شتون کې خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې.

په دې مرستو کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۲۵ کیلو وریجې، ۵ لیتره غوړی، ۱ کارټن شیدې، 5 تختې کمپلې، ۱ هایجن کېټ، ۲۰ کلچې د لاس منځلو صابن ووېشل شول.



## آغاز روند سروی ساحات معروض به خطر سیلاب در ولسوالی زاری ولایت بلخ



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ در هماهنگی با ولسوالی زاری کار سروی ساحات معروض به خطر سیلاب در ده قریه به شمول مرکز آن ولسوالی را جهت ساخت دیوار های استنادی به منظور کاهش خطرات سیلاب را آغاز کرد.

قابل یاد آوری است که با ساخت این دیوار های استنادی شمار زیادی از منازل رهایشی و زمین‌های زراعتی مردم در ساحات مذکور از خطر سیلاب مصوون خواهند شد.

## آغاز کار اعمار چکدم در ولسوالی درایم



موسسه محترم مجادله با فقر در هماهنگی ریاست مبارزه با حوادث ولایت بدخشان کار ساخت چکدم را در قریه سیدها ولسوالی درایم، جهت کاهش‌دهی خطرات احتمالی افتتاح نمود.
کار اعمار این پروژه در حضور رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بدخشان، نماینده ولسوالی و اهالی قریه متذکره آغاز شد.
گفتنی است که در این پروژه برای ۱۴۹ تن زمینه کار مساعد گردیده، مجموعه ازینه این پروژه مبلغ ۱ میلیونو ۱۹۲ هزار افغانی می‌باشد. این پروژه بعد از ۲۰ روز تکمیل می‌گردد.

## ۸۰ خانواده متضرر در فاریاب کمک نقدی دریافت کردند



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب در همکاری با موسسه ورلدویژن، برای ۸۰ خانواده که از اثر سیلاب‌های اخیر در ولسوالی‌های المار و چهلگزی متضرر شده بودند، بعد از سروی کمک نقدی توزیع شد.
باید گفت که سهم هر خانواده مبلغ ۷۸۸۰ افغانی بوده که برای‌شان توزیع گردید.

## په ننګرهار ولایت کی د وروستیو طبیعي پېښو له ۱۱۵ زیانمن سوی کورنیو سره د ۱۲۵۳۵۰۰ افغانیو مرسته وویشل سوه




د ډنمارک مهاجرت سازمان له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري سره د تفاهم لیک په اساس ۱۱۵ هغو کورنیو ته نغدې مرستې وویشل چې د وروستیو طبیعي پېښو له اثره زیانمن سوی وې.

یادې مؤسسی د ننګرهار له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري ریاست سره په همغږۍ په بهسود ولسوالی او جلال آباد ښار کی د سروې وروسته له یادې زیانمن سوی کورنیو سره مرستې وکړې.

هری زیانمن سوی کورنې ته د ۱۰۹۰۰ افغانیو معادل غذایی او غیر ی غذای مواد وویشل.

## از پروژه ساخت چکدم در قریه دره زندان مرکز ایبک نظارت به عمل آمد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان از کار ساخت یک پایه چکدم در قریه دره زندان ایبک مرکز آن ولایت که جهت کاهش خطرات سیلاب توسط موسسه IOM تطبیق می گردد، نظارت به عمل آورد.

محترم احسان الله احسان، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان که در راس هیئت نظارت از این پروژه قرار داشت، کار این پروژه را مثبت عنوان کرده و برای مسوولین پروژه رهنمای‌های لازم را کرد.



## په سمنګان ولایت کې د ترافیکی پېښې له امله د ۴ شهیدانو ورثه او ۷ ټپیانو ته خوراکی او نغدی مرستې وویشل سوې



د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري ریاست، د یاد ولایت حضرت سلطان او خلم ولسوالیو او مرکز اړوند ۱۱کورنیو ته چې د کورنۍ غړی یې د ترافیکی پېښې له امله شهیدان او ټپیان سوی و، د یاد ریاست لخوا له کره سروې وروسته د هر شهید کورنۍ ته ۱۰ زره افغانۍ، ۱۰۰ کیلو اوړه، ۲۵ کیلو وریجې، ۵ لیټره غوړی، ۱ کارتن مکی آش او همدارنګه د هر ټپی سوی کس ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۲۵ کیلو وریجې، ۵ لیټره غوړی او ۱ کارتن مکی آش ووېشل سول.

# مبلغ ۶۵۴ هزار افغانی پول نقد برای ۶۰ خانواده سیلاب‌زده در ننگرهار  توزیع شد



به اساس تفاهم‌نامه که اداره ملی آماده‌گی مبارزه با حوادث با موسسه CWSA، امضاء نموده بود، موسسه متذکره در هماهنگی با ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار، برای ۶۰ خانواده سیلاب‌زده کمک نقدی توزیع نمود. سهم هر خانواده مبلغ ۱۰,۹۰۰ افغانی بوده که برای‌شان توزیع گردید.

قابل یادآوریست که این خانواده‌های کمک شده، از اثر سیلاب های اخیر در شهر جلال‌آباد آسیب‌دیده بودند.

گفتنی است که ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار در همکاری با موسسات، ۷۰۰ خانواده را که از اثر سیلاب‌ها متضرر شده بودند، نیز تحت پوشش کمک‌های خوراکی، غیرخوراکی و نقدی قرار داده است.

## پیام ما:

## آنچه باید در باره آبله میمون بدانیم

### ۱ علایم بیماری چیست؟

- درد عضلاتی، تب و لرزه، سر درد ، خستگی دوامدار، تورم غده لنفاوی و خشکی جلدی .

### ۲ چطور انتقال پیدا میکند؟

- تماس با لباس فرد مریض، لمس زخم های شخص مریض، عطسه یا سرفه شخص مبتلا به آبله میمون و تماس مستقیم حین آمیزش جنسی.